ولا تحسبن الذين قتلوا في سبيل الله امواتا بل احياء عند ربهم يرزقون

شهید پیغام

PROPERTY OF ACKU

۲

فرمانِ الٰہی

بسم الله الرحمن الرحيم

ان الله اشترى من المؤمنين انفسهم واموالهم بان

لهم الجنة ط يقاتلون في سبيل الله فيقتلون

ويقتلون قف وعدًا عليه حقا في التوراة والانجيل

والقرآن ط ومن اوفى بعهده من الله فاستبشروا

ببيعكم الذى بايعتم به ط وذالك هو الفوز

العظيم ٥

(التوبة : ١١١)

ترجمه

ہر آئینہ خداوند خریده است از مسلمانان جان ایشان را و مال ایشان را بعوض آنکہ ایشان را باشد بہشت

جنگ می کنند در راهِ خدا پس می کشند و کشته می شوند وعده یکہ لازم است بر خدا بہ تحقیق در توریت

و انجیل و قرآن و کیست وفا کننده تر بعهد خویش از خدا ؟ پس شادمان باشید باین فروختن خود کہ معاملہ کردید

بان و اینست پیروزی بزرگ .

بسم الله الرحمن الرحیم

شهید پیغام

PROPERTY OF ACKU

د افغانستان د مجاهدینو اسلامي اتحاد نشراتي ارگان ٠

د ۱۴۰۳ ه ق کال د ذیحجي میاشت دولسمه گنه

نیولیک

گنه	مضمون	مخ
۱	مهاجر	٤
۲	د عمل مکافات	۸
۳	تربیۀ اولاد . . .	۱۰
٤	د اسلام نقش	۱۲
۵	نمونۀ از تحمل . . .	۱٦
٦	منلي دعا	۱۸
۷	خودگرایي و	۲۰
۸	د جهاد د سره سنگر	۲٦
۹	اخبار جهاد	۳٦
۱۰	خونین کفنان .	۳۸

زموږ شعار

دخدای (ج) رضا زموږ هدف دی.

حضرت محمد صلعم زموږ رهبر دی.

قرآن کریم زموږ قانون دی.

فی سبیل الله جهاد زموږ لار ده.

دخدای (ج) په لار کی شهادت زموږ لوړه هیله ده

استقلال زموږ عزت دی.

شرعی حجاب زموږ پت دی.

محمد معروف «زوگر»

مهاجر

باری کتابی را که مشحون ازگوهران شبتاب و ظلمتزدای حکایتهای حیات طیبه قائد بشر ''پیامبر بزرگوار ما حضرت محمد مصطفی ﷺ'' بود ورق میزدم ، بر سر عنوانی چشمم اشک افشانی کرد که داستانی از هجرت رسول ﷺ داشت و قصه یی از سوء قصد منافقین و کفار. به جمله یی نظر دوختم که در غار ثور ''حضرت ابو بکر صدیق به پیامبر اسلام گفت : ''آنها به سراغ ما در این جا رامدند، بین پا های شان در دهنه سوراخ .علوم میشود'' حضرت پیامبر اکرم ﷺ برایش میفرماید : ''لا تحزن ان الله معنا''.

(اندوهگین مباش ! همانا خدا (ج) باماست -).

این کلماتی بود و جیز و مملو از اسرار هجرت و تائید خداوندی با مهاجر که برزبان ختمی مرتبت جاری شد : بر زبانیکه خدا وند در تائید صدق او فرماید : ''وما ینطق عن الهوی ان هو الاوحی یوحی'' : او از خواهشات نفسانیش دم نمیزندوسخنی نمیراند ، نیست آن گفته مگر ''وحی'' که به او خبر داده شده است .

این از سویی و از طوفی‌همین گفتهٔ پیامبر اسلام را قرآن کریم به لهجهٔ تائید بیان میدارد . سبحان الله!چه سخن رسا شیوا ییکه قلم از توجیه و تفسیر کامل آن به پیشگاه جلال الهی سر عجز فرود میآرد . بلی ! گفتهٔ ''لا تحزن ان‌الله معنا'' تنها درین خلاصه نمیشود که فقط آن الفاظ را ترجمه کرد و پی معنی سطحی آن شتافت : ''غم مخور خدا باماست '' خدا درهمه احوال باماست ; در حضر ، سفر ، هجرت ، بسیج ، مبارزه ، جهاد و تمام مکونات زنده گی . خدا (ج) در همه دستبرد های تکاملی از ''وهو یصور کم فی الارحام کیف یشاء'' تا '' خلق الموت والحیوة لیبلوکم ایکم احسن عملاً'' باماست .

خدا (ج) از هجرت به ''هجرت'' که درژ رفای ''المهاجر من هاجر ما نهی‌الله'' سراغ میگردد و به راستای هجرت ، جهت بسیج میپیوندد و درغایه ، کمال '' ولا تقولوا لمن یقتل فی سبیل الله اموات ویا حتی لا تکون فتنة و یکون الدین کل لله '' سیبابد ، مارا لمحه به لمحه نصرت مید هد و تائید میکند و نیرو میبخشد . . . گذشته ازان گفته پیامبر ﷺ درسی بود که در شداید مصائب خدا را نباید فراموش کرد و بآن باید اعتماد و توکل نمود خصوصاً در مرحله ییکه در حقیقت ثمرهٔ همه آز .ونها بحساب میآید و آن را '' هجرت '' گویند و پوینده آن را مهاجر .

خدا (ج) در روشنایی و توضیح فضیلت هجرت و تائید او تعالی با مهاجر ، جا ییکه از اولین هجرت و آخرین پیامبر التباه مید هد ، میفر ماید (الا تنصروه فقد نصره الله اذ اخرجه الذین کفروا ثانی اثنین اذ همافی الغار اذ یقول لصاحبه : لا تحزن ان الله معنا ! فانزل الله سکینته علیه وایده بجنود لم تروها وجعل کلمة الذین کفر وا السفلیٰ و کلمة الله هی العلیا والله عزیز حکیم . (التوبه :٤٠)

ترجمه :

اگر مددنکنید رسول ﷺ را بتحقیق نصرت داده اورا «الله» (ج) هنگامیکه بیرون کشید اورا . آنانکه کافر بودند در حالیکه دوم تن از دوبود وقتیکه هردو درغار بودند . آنگاه که گفت رسول ﷺ برای رفیق خود : غمگین مشو ! بیشک الله باماست پس فرود آورد الله تسکین خودرا بروی وتقویت داد اورابه لشکر هاییکه نمید یدند آنر اوگردانید دعوت کافران را « فروتر » وسخن «الله » (ج) همانست بلند تر و الله (ج) غالب ، خداوند حکمت بزرگ است .

قرار بود منافقین و مشرکین مکه بنا برتعهد اهریمنی سوء قصدی به پیامبر اسلام کنند و بزعم مبنی برباطل شان اوار بقتل رسانند ونقشه ابلیسانهٔ شان را طوری مطرح ساختند که ازهر قبیله جوانی حاضر شود تابه حمله دسته جمعی هریک ضربه یی از شمشیر بروجود رسول ﷺ فرود آرد وهنگام خونبهای رسم قبیلوی جاهلی ، طور دسته جمعی ازهر قبیله خونبهای وی پرداخته شود وبدینترتیب اسباب عدم انتقامکشی قبیله بنی هاشم مهیاگر دد . شبیکه این نقشه شوم عملی میشد ، حضرت رسول ﷺ به هجرت ماسورشد و حضرت علی کرم الله وجهه رابا د ادن اطمینان از نرسیدن حتی گزندی درجایش خواباند وخودبا حضرت ابوبکر صدیق رض باپاشیدن مشتی خاک در چشم مشرکین، مکه را بعزم هجرت بمدینه ترک گفت ـ در درازای راه کوهی بود بلند که در قسمت وسط آن کمری جلب توجه میکرد لقان ، میان این کمر لقان صخره یی بود بزرگ ؟ که این صخره « غاری » را احاطه کره بود بنام « غار ثور » راهی داشت صعب العبور که بجز خزیدن بر سینه ، رسیدن بآن غیر ممکن مینمود و محال ، حضرت پیامبر ﷺ با همراهش داخل همین غار شدند و سه شبانه روز را درهمین غار سپری نمودند وقتیکه مشرکین دریافتند که دربارهٔ موجودیت پیامبر ﷺ موضوع از چه قرار است ؟ به تعقیب آن برآمدند و تفتیش و ترصد سر دادند « پل زن » (قائفی) را جهت سراغ پیامبر ﷺ گماشتند . «پل زن» مشرکین را قدم بقدم به پنا گاه رسول کریم ﷺ رهنمائی نموده در پیشاپیش د هنئه غار ثور امر ایستائی و توقف داد وگفت : در این جا محمد ﷺ مخفی شده است اما « خدا (ج) » با ایشان بود ونگذ اشت آسیبی برای ایشان برسد بناء عنکبوتی رابه تنیدن خرگاهی دردهنه سوراخ امر فرمود . کار تمام شده بود و وقتیکه کفار در این جا رسید ند ـ د هنه غار طوری مینمود که از چندین سال به این سو در این سوراخ کسی درون نشده است ـ قائف را کاذب پنداشته نواحی غار ثور را ترک کردند ! از لا بلای هر سطر یکه نظرم عبور میکر دشراره‌ی از زوایای دلم لهیب مشتعل تمنارا بدرقه مینمود ، چشم لابداشک میریخت وخونا به نثار میکرد دنظر درجمع بندی سطرها ، طی پاراگرافها، ختم فصول پایان بابهابه داستانی توجهم را جلب کرد که ازتصویر کلی‌ان سیمای موقر رسول ﷺ بادوتن ازیا رانش (حضرت ابو بکرصدیق و حضرت عمر فاروق رضی الله تعالی عنهما) درکوچه های مدینه ، در دل نیمه‌شب ، در گیرو دار گرسنگی ، رنگ و پرد ازوشکل مگیرفت " باری حضرت محمد ﷺ) دریکی از شبهای اول هجرت ترک‌بالین کرد به کوچه های مدینه برامد راه کوچه در پیش گرفت " آهسته آهسته گام برمیداشت " شخصی را دید که درسایه های کمرنگ کوچه سوی وی میاید ، صدایش زد ، جواب دا دکه ابوبکرم . لحظه یی چند باوی هم صحبت بود که شحص سومی وارد کوچه شد که آنهم حضرت عمر فاروق رض بود از حضرت رسول اکرم صلی الله علیه وسلم پرسید ند : شمابه چه منظوری اینجا امدید پاسخ داد : گرسنگی

بیتابم کرد وخو ابم نبرد؟ ناگزیر از خانه خارج
شدم: حضرت پیامبر صلی الله علیه وسلم پرسید:
شمارا چه شده است که دراین نیمه‌شب ازخانه برون شدید؟
جواب دادند: مارا نیز گرسنگی نگذاشت که بخوابیم
ناچار بستر خواب را خالی گزاشته برون آمدیم !!!
سپس هرسه تن (حضرت پیا مبر صلی الله علیه وسلم
بایارانش) در انصاری یی را کو فتند... وچیزی در آنجا
خوردند که بدان رفع گرسنگی شود ---- برادر!
مهاجر آواره! ای آنکه سایه و پایه و حمایه گر فرزندانی
چون منی! محاسبه ام باتواست! گرچه من گوشه یی
از زندگی حضرت‌محمد مصطفی صلی الله علیه وسلم را
وقتی خوانده ومطالعه کرده بودم که هنوز مستقیماً
استعمار شوم روس خون اشام برمیهن اسلامی ماسایه
گسترده نبود وخفا شان ظلمت پرست در آسمان کشور
مارخنه نکرده بودند وآنزمان واقعاً در دی را که
امروز بجان و دل احساس وبه جوا رحم لمس میکنم
بجز از پیشبینی واند وخته های تاریخ نداشتم، ولی
امروز که بچشم سر میبینم و ''زقوم'' بیدادرا در
دشتهای سوزان وخیمه های هجران به‌زیر اسمان حسرت
عملاً بسر میکشم ودرچنین شرایط دشوار که کسی
از هجرت و مهاجر نام میگیرد، شداید، مشکلات
محرومیتها احتیا جات --- با تمام رگ وریشه وسا
قه‌وبارو برگ شان روح میگیرند وچون اشباح رؤیایی
در دستبرد قصهٔ زندگی وانسان تهدیدم میکنند وچنان
حساسیتی سرو پایم رازیر زانو میگیرد که راه را از چاه
وگندم را از جو تمییز کرده نمیتوانم.

آری! برادر! میدانم وضع کنونی جهان در
کدام خمخانه های بدمستان خون آشام چاشنی میگیرد
وبمردم ,, شراب مرگ، تهلکه، محرومیت، بدبختی
واستبداد و تجاوز،، تهیه میکنند؟ !!!

میدانم در چه نوع ظروف و شرایطی قرار داری
وچه سان ایده استعمار بنیان هستی تورا ازبیخ وبن
برمیکند وچه قسم افکار مغشوش کننده بوق نو از
ان و جنگ افروزان بین المللی برسرچهار راهی قرارت
داده اند؟!!! سپاهیان و اجیران کینه توز استعمار
از هرسو متوجه تو اند که از کدام راه ممکن از تو
سلب آزادی کنند وتورا بنام آزادی برده وبنده خودگر
دانند دستها از هر طرف اندر کا رند وجوا مع در
مجموع جاهلی درتتبع و سروسا مان دا دن حمله‌ی
تازه برکا شانه مصیبت زده تواند.

میدانم که کلمه آزادی خیلی دوست داشتنی،
شرین و گوارا است ولی باید فراموش نکنی که ازادی
از خود مفهومی دارد بس وسیع که آزاد یهای
''صادراتی ووارداتی،، حق دهنده حقه آزادی نتو
اندبود. توباید از حیثیت، شرف، وقار، آبرو وناموس
رسالت تاریخی ات منحیث مسلمان واقعی که توالی
قدمهای تو به رهبربزرگ هجرت وجهاد میرسد
مردانه وار دفاع کنی ونگذاری که از آغوشی به
آغوشی تن دردهی وهر احمق خود باخته فریبت دهد
و ملوثت ساز د! خودفریبی وخویشتنداری بیگا نگان‌را
که میخواهند باردیگر اسیرت سازند وذلیل مرکب،
از خود دورکن! به نغمه های بظاهر دل انگیز
''گل خانه،، میله های پغمان، کاریز میر، اهنگران
بندقرغه وسردی ------- که جنباندن غلط است
وچنان غلطیکه زندانی یی بعدازشست سال اسارت وبر
ده‌گی دژخیمان تاریخ که دارند از صفحهٔ تاریخ دورش
سازند وبه‌ملعبهٔ هوسهای شیطانی شان مبدلش کنند که
ازپلاستیکی بیش نیست واراده یی هم ازخودند ارد،
بازهم توقع آزادی را از آنهاداشته باشد. اگرطوری
باشد که شنیده میشود تو انتظار پاداشی از کسی
داری که درست چهل سال وبشمول اجدادش شست
سال‌وبیشتر از ان حاکم برسرنوشت توبود وکار هایی
را در حق تو رواد میداشت که تو خود آنرا به جسم
و جان لمس واحساس میکردی ـ فراموشت شد که
نوکران و مخلصین دربار وافراد وابسته به دستگاه
جهنمی ''شاهی'' برهستی توبازی میکردند وشرافت

وکرامت تو را که حق فطری هر مسلمان است بباد مسخره میگرفتند ؟ !

از یادبردی که جواب یک سپاهی چوبدار وشلاقدار وابسته به دولت راگفته نمیتوانستی وچنان شلاقکاری وسلی نو ازیت میکرد که تا دفتر "حاکم صاحب !!!" تغییرقیافه میکردی ؟ !

نمیدانی که این دودمان عیاش وکثیف سالهای سال از نام فرهنگ دورت نگهد داشتند وحتی نگذاشتند که به وسیله این حق مشروع خود ، اقلاً خود رابشناسی ؟ !

این خاندان خون آشام !

این دودمان عیاش !

این خانوادهٔ غلام حلقه بگوش استعمار !

این قبیلهٔ ذلیل وپست !

این لجام گسیختگان تابع هو او هوسهای شیطانی !

این مکاران وغداران وخائنین به اسلام !

این غاصبین معنویات وماديات جامعه مليونى افغانستان مسلمان !

این ریزه خواران استکبار و استعمار شرق و غرب ومربیون کمونستها (وطن فروشان باند پرچم و خلق) .

وبالاخره این زمینه سازان ورود کمونیزم به افغانستان و ساز شکاران باساخت وبافت واشنگتن وکرملین ، چه بود که نکردند ؟ ! و چه مظالمی که برتو رواانداشتند . توندیدی که مردم مسلمان قندهاررا بعنوان اینکه از بی ستری خواهران و دختران خویش جلوگیری میکنند ، بخاک و خون کشاندند و نهضت ولایات سمت مشرق را در برا ر این لکه ننگین تاریخ سرکوب وخفه ساختند ؟ ! توندیدی که در افغانستان چه کسی اساس خلق وپرچم راگذاشت واین عناصر مرتدو وطنفروش راتقویت کرد؟ ! بیادت نمیآیدروز هاییکه تظاهرات خیابانی جوانان مسلمان درمحاصره سگهای زنجیری "ظاهر شاهی" مید ر آمد و باندهای خلق و پرچم و شعله ---- وسساواتیهای غربگراو سوسیال دیموکرات های تنگ نظر تادروازه ارگ شاهی داشته تظاهرات شان رامیگستردند ؟ ! !

بیادت هست روزیکه کمونستهای بی‌وجدان ، قرآن عظیم الشان این کتاب آسمانی ومؤمن به سارا به رسم توهین از منزل چهارم لیلیه مرکزی پوهنتون کابل بزیر پرتاب کردند ؟ ! مگر همان روزدر افغانستان نبودی که با "مردارشدن سیدال سخندان" برادران مسلمان تورا عقب پنجره های زلدان کشیدند . فراموش کردی روزی را که "بارق شفیعی،، این نوکر صدیق ارباب کمونیزم برروح خبیث لینن لعین درودگفت و درشمارهٔ پنجم جریده پرچم خلق به نشر سپرده شد وجزئیترین واکنشی از طرف طاغوت ظاهر شاهی دربرابرش نشان داده نشد وبرعکس درحمایت دولت قرار گرفت و مخالفین آن را که همین پیشوایان من وتو ومقتدایان ملت «علمای واقعی» مابودند سرکوب وزندانی وفضیحت کردند ؟

توندیدی که تره‌کی ملحد راچه کسی به امریکافرستاد آیا او که از فارغ صنف سه دهاتی بیش نبود از روی کدام ـ معیار تربیتی وقانون به امریکا فرستاده شد , مگر این جا تحصیل کردگان نبودند درسمت تره‌کی ملحد کارمیکردند ؟ ! !

ندانستی که مطالبه تره‌کی از امریکا درحقیقت پوششی بود که "ظاهرشاه" بظاهر خودش رامخالف کمونیزم نشان‌دهد ؟ ! واگرچنین نبود چرارئیس انحصار شکر مقرر شد ؟

مگر خوابت برده بود که آوازه دستبوسی شاه توسط "حفیظ الله امین" درحوزه پوهنتون کابل درتمام اطراف واکناف کشور بالاگرفت وبوسیلهٔ این دستبوسی به امریکا فرستاده شد واگر از آنجاخواسته شد چرابه کیفر اعمالش نرسید وچرا استاد پوهنتون (!!!) شد ؟

بقیه در " ۲۵ "

قیام‌الدین «کشاف»

د عمل مکافات

په کومه ټولنه کې چې انسان ژوند کوي هغې کښې د عمل د مکافات مسأله دژوندني قانون په حیثیت منل شویده د یوې ټولنې دژوند تګلاره او کړنلاره که هرڅه وي خوله دې نه ستوګې نشي پټولای چې ښه خدمت د انعام او په خدمت کې غداري او خیانت د سزا او مجازات وړ دي. د دغه اصل د رعایت او تطبیق لپاره قوانین وضع کیږي او د هغو د پاره اداري او افراد په کار لګیا او بوخت وي او داپه هیڅ صورت نشي کولای چې ووائي: هر څوك چې هرڅه کوي بې تفاوته ده! نه دښه خدمت څه ګوره بدله شته او نه دو رانکاري څه سزا؟ ځکه چې پدې صورت کې د ټولې ټولنې دژوند ګډوډیدل او امنیت او اطمینان په نا امنو بدلیدل یقیني خبره ده. خودا پوښتنه پیدا کیږي چې ایا بشري وضعي قوانین د عمل د مکافات غوښتني په پوره ډول تر سره کولای شي؟ یعني دښه خدمتګار ښه بدله او د ظالم باغي او ورانکاري ناوړه سزا ورکولای شي؟ په داسې حال کښې چې د نړۍ د تاریخ په اوږد د وکې، نه د بشریت د فلاح نجات او بهبود لاربښوونکو ته د هغو د خدمت د قدر او ارزښت په تناسب د انعام ورکولو زمینه مساعده شویده او نه د بشریت تباه کوونکو ظالمانو ته د سزا ورکولو ـ بلکې برخلاف کله ناکله داسې هم شویدي چې خدمتګاران ربړول شویدي او ځورول شویدي او ظالمان دمجازات او سزانه ژغورل شویدي.

پدې اساس د دغې پوښتنې بشپړ ځواب په اسلامي عقیده او نظام کې موجود دي چې وائي له مرګه وروسته بیاژوندون حق دی چې هلته په پوره انصاف او عدالت سره د افرادو ـ قومونو اوپه مجوعي ډول د ټولې انساني نوعې د دنیوي کارنامو ریکاټ رابر سیره شي ـ حساب بې واخیستل شي او عملا د مکافات قانون پرې تطبیق کړای شي ځکه چې یو ظالم فرد یا یوه ظالمه ډله چې د خپلو ظالمانه حیواني هوسونو لامله په زرګونو ـ لکونو ـ او ملیونونو انسانانو باندې ظلم او تیرې، د هغوی په کوپړیو خپل قصرو نه ودانوی، د هغوړه غوښو او وینو باندې خپل ژوند بسیا کوي نوکه په پای کې وژل شول هم خوپدې کارسره د عدل ټولې غوښتني ترسره نشوې ـ د زرګونو او لکونو انسانانود مرګ او نابودې په بدل کې د یویا څوتنو مرګ څنګه د عمل بدله ګڼل کیدای شي؟ یا هغو صالحو انسانانو چې د حق او باطل پدې اوږده او هولناك کشمکش کې یې پرله پسې کړ اوونه وګالل ـ محرومیتونه یې ولیدل ـ تعذیبونه او شکنجې وربانديې راغلې اوپه ټول عمر کې یې دآرام او بسیا ژوندانه خیره ونه لیدله اود مال او اولاد د قرباني ترڅنګ یې بالاخره د خپلو وینو قرباني هم ورکړه ـ پدې ژوند کې څه شي د هغو د عمل مکافات ګڼل کیدای شي؟ خوپه قیامت کې د ډیر لوی مجرم لپاره سزا او د ډیر لوی نیکو کار لپاره غوره جزا ورکول کیدای شي. دغه عقیده ده چې انسان د نیکۍ خواته

ځوی د غه عقیده انسان دی ته چمتو کوی چی د خدای الوهیت ـ مالکیت ـ خالقیت او لوړ قدرت ومنی او د هغه په وړاندی دعا جزی او بند گی سرښکته کړی ـ د هغه له مخلوق سره ښیگڼه ـ مرسته او تعاون ؤ کړی ـ لویدلی انسانان راپورته کړی مظلوم ته د ظالم له ظلم نه نجات ورکړی د حق طرفدار اوملاتړ اوسی ـ دباطل پرخلاف قیام وکړی ایثار او قربانی ته حاضر شی له هیڅ طوفان نه ونه ویریږی ، د طاغوتی او شیطانی طاقتونو په مقابل کی د ماتی خوړ لومفکوری ته پخپل دماغ اوزړه کی ځای ورنکړی اود ژوند تر وروستی سلگی پوری به دغه لاره په پوره متانت او ثبات سره مخ په وړاندی لاړشي اود وروستیو نسلونو لپاره دغوره تگلاری په جوړولو سره نیك میراث پریږ دی .

ددی بر عکس له چاسره چی دغه عقیده نشته لکه د هریان او کمونستان چی د خدای له وجود او هستی نه بیخی منکردی اوپدی مفکوره دی چی پدی دنیا کی له مادی نه هاخوا نور څه نشته ! ماده فنا کیدونکی نده له هر تغییر نه وروسته ماده پخپل حال بیرته ماده پاتی کیږی او له دی ساینسی علمی انکشاف نه هم سترگی پټوی چی ماده په قوت تبدیلیږی او قوت په ماده ، له مرگه وروسته ژوند نه منی ، اخلاقی معیارونو ته له سره په ارزښت قایل ندی حرام او حلال نه پیژنی ، د هغو د دغی نا معقولی شیطانی عقیدی لازمی نتیجه دااووزی چی د خلکو اخلاق فاسد شی د مسؤولیت په احساسولو او د عمل مکافات نه په نه ویریدنو خپل ځانونه بی مهاره څاروی جوړ کړی ، نه دنیکی مفهوم وپیژنی او نه دبدی ، نه د چاسال او سرورته قیمت لری ، نه د چا شرف او حیثیت بلکی تل د ظلم او فساد اود فسق او فجور په چارو بوخت وی . د مظلوم له سوو اسویلیو زگرویو او سروینو نه خوند واخلی اوهیڅ پروایی نه وی چی دغه عمل چی سرته رسوی انسانیت دی اوکه حیوانیت ـ د بشریت خدمت دی اوکه د بشریت تباهی ؟ هو ! همداسی باید وی ځکه د کمونیزم خاصیت او ماهیت همدغه دی . ځوك چی له خدایه باغی وی د خدای له مخلوق سره به څه ښیگڼه وکړی ؟ ځوك چی له سره د ښه عمل مفهوم پخپل قاموس کی نلری هغه به ښه دځه لپاره کوی او له بدونه به د څه لپاره ځان ساتی ؟ داخو هـله کیږی چی د حساب دورځی په راتگ اودعمل د مکافات په قانون یی عقیده وی مگر که د وی و غواړی او که ونه غواړی د کافر او ظالم لپاره دوه عذا به دی یود لته او بل هـلته !

ازمکافـات عـمـل غـافـل مـشـو
گـنـدم از گـنـدم بـرویـد جـوزجـو

دچاپه لمانځهاوروژی پسی مه ځی (مه نیروځی)
بلکی داوگوری ،چی خبری کوی ، رښتیا وایي ، امانت
نه خیانتوی ، اوچی کله گنا نه ورنژدی شی ،راستیږی
(حضرت عمر رض)

سخیداد فائز ترجمه از منابع عربی

تربیه اولاد از نظر اسلام

پدیدهٔ حسد: حسد عبارت است از آزادی زوال نعمت از دست شخصیکه با آن حسد درمیان بوده باشد اگر مسلمانی نمیتواند درک کند که ایا با فلان شخص حسد و کینه دارد یا خیر؟ طریقهٔ تشخیص حسد با نفر مورد نظر این است که اگر بارسیدن خساره و آسیب بهمان شخص، سرور و خوشی را احساس میکرد و فکر مینمود و یا احیاناً میگفت خوب شد که چنین و چنان خساره و مصیبت، عائدش گردید این وضع نشان داشتن حسد با نفر مطلوب میباشد علامهٔ دومی حسد این است که وقتی شخص مورد نظر، مفاد و منفعتی را گمائی میکند، آن دیگری ازین منفعت و مفاد او احساس تأثر باطنی و انزجار درونی مینماید و فکر میکند، ای کاش عوض او خودم به این نعمت نائل می شدم، این است نتیجهٔ دیگری از حسدیکه در دل و دماغ انسان ریشه های تباه کن خود را میدواند.

حسد و کینه، پدیدهٔ خطرناک اجتماعی بوده، اگر مبلغین، معلمین، پدران و بزرگان اجتماع - وفا میلها این مکروب را در نطفه خنثی نسازند، و اطفال را با روحیهٔ اخوت، صمیمیت و از خود گذری و ایثار تربیه نکنند و بالعکس حسد و کینه در ضمیر و دماغ اطفال و نسل جامعه آشیانه بگیرد، این خوی ضد اسلامی، بدترین نتائج و خطرناکترین آثار در پی خواهد داشت، اگر گفته شود که حسد و کینه ستون فقرات و نخستین خشت اساسگذاری اختلاف و مایهٔ هر گونه مصیبت و عمده ترین عامل تمام معاصی و تجاوزات ضد اسلامی و ضد انسانیت بود، هیچگونه مبالغهٔ نخواهد بود.

احیاناً پدیدهٔ حسد در مرحلهٔ اول برای اهل فامیل قابل درک نمیباشد و حدس میزند و بعبارهٔ دیگر گمان میکند که از اولادش توقع حسد مجال ندارد و اطفالش در چنین وضع قرار نداشته حتی از احساس کینه هم پاک و مبرا میباشد. لذا هر کسیکه مسؤلیت تربیه را بدوش داشته باشد مکلف است تا با استفاده از حکمت و تدبیر بعلاج این مرض خطرناک معنوی (حسد) که مرحلهٔ دومی آن علیه همدیگر تبلیغات و مرحلهٔ سومی اش بجان همدیگر افتیدن، زد و خورد نمودن، زدن و کشتن و در نتیجه نا بود شدن و خدمت به استعمار و دشمن آشتی نا پذیر اسلام (کفر و کمونزم) میباشد بپردازد، روی این دلیل با کمال احتیاط و دور اندیشی باید بغرض ادای این و جیبه قدم های مؤثری را که در توصل به تطبق قوانین اسلامی نقش عمدهٔ را ایفاء کرده میتواند برداشته شود و در تربیهٔ جامعهٔ اسلامی طریقی گزیده و اختیار گردد که بمشاکل خطیر تر و نتائج وخیمتر و به درد های دردمند تر نفسی منجر نگردد.

پیش از آنکه جهت استیصال این پدیدهٔ تباه کن بوسائل و قایوی و امور معالجوی آن اشاره بعمل

آید ، بهتر است اسبابی قلمداد گردد که در عروق و شرائین و نفوس اطفال آتش حسد را مشتعل می سازد ، و فکر میکنم اسباب اشتعال آتش حسد در امورآتی خلاصه میگردد :

۱- خوف و هراس طفل از فوت امتیازاتش در فامیلش مانند محبت و عطف توجه بزرگان به اینکه یگانه عنصر مطلوب و مورد نظر بوده است بالخاصه وقتی پدیدهٔ حسد عرض اندام مینماید که طفل جدیدی چشم به دنیا میکشاید و طفل مقدم تصور میکند که در راه محبت و امیازات او سدی را ایجاد خواهد کرد .

۲- مقایسهٔ ناعاقبت اندیش بدی چنانچه در حضور اطفال یکی را ذکی و دیگری را بنام غبی موصوف نماید .

۳- یکی را مورد توجه و لطف قرار دادن و دیگری را محروم ساختن چنانچه یکی در بغل گرفته شود ، همراش بازی کرده شود و از اعطا ها نصیبه داشته باشد و آن دیگری مورد سررلش و زجر قرار گیرد در برابرش از بی اعتنائی و اهمال کار گرفته شود و در محرومیت بسوزد و بسازد .

٤- چشم پوشی و گذشت از اذیت و بدی طفل محبوب ، مراقبت و مؤاخذهٔ طفل دیگری با ارتکاب بدی اندک و قلیل .

٥- نگهداشت طفل بحالت فقر و فاقه و زندگی ضیق و ناگوار در فامیل دارنده و عیاش .

علاوه از ان از هرگونه اسبابیکه در شخصیت اطفال نتائج سوء را ببار می آورد جداً ، جلوگیری بعمل آید .

اسلام پدیدهٔ حسد را با مقررات بخصوصی تربیوی تحت علاج قرار داده است ، اگر استادان تربیهٔ عصر حاضر ازین اسباب کارگیرند ، روحیهٔ دوستی ، ایثار و صفاء در نفوس اطفال ، تبارز منیماید و غریزهٔ تعاون ، خیر خواهی و توجه به تامین منافع دیگران در ضمیر ایشان نشو و نما میکند .

گفته میتوانم همان مبادی تربیتی که در علاج پدیدهٔ حسد نقش مؤثری بازی میکند در امورآتی سراغ شده میتواند :

۱- آگاهی طفل از محبتیکه او را در آغوش گرفته باشد .

محبت با طفل یکی از عادات و خصائل نیک پیامبر اسلام بحساب میآید و یاران خود را نیز به آن مامور می ساخت ، ایشانرا تشویق میکرد و در هر موقع از تنفیذ آن مراقبت می نمود .

برخی از نمونه های آن را باهم میخوانیم :

امام ترمذی و دیگر روات از عبدالله بن بریدة از پدرش روایت کرده که گفته : حضرت رسول الله (ص) در حال ایراد خطبه بود که حضرت امام حسن و حسین (رض) در حالیکه هر دو قمیض سرخ به تن داشته می آیند ، بدون فاصله پیامبر(ص) از منبر ، پائین شد و هر دو را برداشته در مقابل خود شاند ، بعداً فرمود :

خداوند (ج) چه خوب و راست فرموده : (جز این نیست که مالهای تان و اولاد های تان آزمون است) نظرم به این دو طفل افتید که راه میرفتند و سقوط میکردند ، لذا خود را کنترول کرده نتوانستم ، سخن خود را قطع کردم و ایشانرا برداشتم .

حضرت محمد (ﷺ) همواره با دو نواسهٔ خود حضرت امام حسن و امام حسین (رض) بازی میکرد و بغرض خوشی ایشان مانند طفل بادستها و زانوهای خود کشان کشان می رفت و ایشان خود را به یکطرف و دیگطرف آن حضرت(ص) می چسپاندند و به این ترتیب پیامبر ایشان راه پشت کرده میبرد و میفرمود «چه خوب است اشتر شما ، و چه خوب

بقیه در « ۹۲ »

محمد زمان «مزمل» په تیوبسی

د ایمان نقش په ژوند او مبارزه کی

بیا ژوندون :

مؤمن انسان له دنیایي ژوند نه موقتي سترګی پټیدل د خپل ژوند وروستنی سرحد نه ګڼی ، د هغه په نظرکښی ژوند له مرګ نه وروسته هم امتداد لری په دی ډول هغه ژوند ته د مادی ژوند دنیایي شپو او ورځوله زاويي نه ګوری .

پر خدای او رسالت ایمان لرونکی انسان حتماً په دی هم باور لری چی هغه د دنیایي ژوند د موقت مرګ نه وروسته بیاهم ژوندی کیږی او د کائناتو او د انسان د خالق خدای په وړاندی به د حساب او کتاب له ورکولو نه وروسته د خپل ښه او یابد عمل بدله وینی ، بدله چی د خواږه او یا ترخه ابدیت په لړکښی به دوام کوی .

هغه څوک چی د زړه له کومی او د وجدان له اعماقو ایمان او باور لری چی د دنیا له موقت ژوند نه وروسته بیا ژوندون او د دو هم تول توضیح شوی متعلقات یو راتلونکی حقیقت دی او هغه تول په بیړه را روان واقعیت دی ، داسی عنصر او داسی تولنه به د خپل دغسی باور او دغسی ایمان په نتیجه کښی د دنیایي ژوند تولی خوږی او ترخی ، تودی او سړی په یو معتدل او مفید جهت کی په خورا اطمینان او ډاډ ترشا پریږدی او هغه به په روان ژوند کښی پرته له دی چه دی خپله مادی وضعه ، اجتماعی موقف پرځان مشغول کړی له یو بشپړ اشباع شوی قناعت ښبونکی احساس او شعور نه برخمن وی ، شعور هم داسی شعور چه مؤمن په ننی ژوند کښی په ابدی ژوند او هلته د حق په میزان تلل شوی نعمت پوره بسیاوی .

په آخرت ، میزان ، جنت او دوزخ او دلوی خدای په ملاقات ایمان لری ، انسان ته د ژوند په هکله کاملا بدل او مقاومت ښبونکی احساس ور کوی ، د انسان عاطفه ، عقل ، تحرک او جهت ته بله بڼه ورکوی ، په انسان او انسانی شعور کښی عمیق او ژور بدلون راولی ، انسان چه د ژوند په هکله داسی ابدی او هسکه انګیرنه ولری هغه د ژوند په هر پړاو کښی د ضیاع ، فناء ، بی هدفی احساس نه کوی او هغه لیونتوب ګڼی . هغه به ځان ، نړی او تول محتمل او روان روابط د همدی د ابدیت له زاويي نه مطالعه کوی او هرڅه به په همداسی ابدیت پوری تړلی احساس په پیمانه تلی او د دی انګیرنی او محاسبی په نتیجه کی هغه د ثبات ځلی او د مقاومت برج وی .

په آخرت او اخروی ژوند مؤمن ژوند ته د مادی او دنیایي ژوند په توګه نه ګوری ، بلکه هغه باور لری چی د دنیا ژوند موقت فرصت اصلاً د ابدی ژوند او د هغه د ابدی خوږو لپاره مقدمه او سریزه ده او باید د طولانی او اوږده ژوند د ثبات او هوسایي راز په همدی مقدماتی ژوند کښی ولټول شی .

په ابدی ژوند مؤمن انسان نظر خپل ایدیالوژیکی

محکم مقاومت ته د هر ډول محرومیت مقابله کولای شي ، هغه د نن روان ژوند محرومیتونه له پښو نه شي غورځولای ، ځکه هغه باور لري چي پرمخکي پراته محرومیتونه اصلاً د ابدي موفقیت په مخکښي امتحان کوونکي شرط دي ، هغه په پوره حوصله او قوي باور د محرومیتونو ، ناخوالو دردونو او مصیبتونو مقابله کوي او د زړه له کومي باور لري چه هغه به یوه ورځ نه یوه ورځ د دي محرومیتونو ، کړکیچونو په سینه د ابدي برې ، برې لیك اخلي .

په آخرت او ابدي ژوند مؤمن انسان په ژوندکي د ټولو محتملو او روانو ، کړاوونو، ربړونو او ناخوالو په وړاندي اصلاً د همدي عقیدي او باور په نتیجه کي بیمه شوی ، هغه هیڅکله هم د مشکلاتو او کړکیچونو په پیچلي اوضاع کښي سقوط نه کوي ، هغه که څه هم د دنیا د ژوند ناخوالي ، محرومیتونه د هغه پښي نه ځمکي اوچتي کړي خو د هغه د داړه زړه د ابدي ژوند او په آخرت باندي د ایمان په مرغلین مزي له اسمان سره تړل شوی او هغه سقوط ته نه پریږدي .

څنگه ممکنه ده چه یو انسان په بیا ژوندون ، حساب ، کتاب ، میزان ، جنت او دوزخ ایمان ولري او هغه دي د مشکلاتو او ربړونو محرومیتونو او ناخوالو په وړاندي د مقابلي او مقاومت نه عاجز شي څکه داسي مشکل او کړکیچ نشته چي د داسي انگیرني څښتن په کي داسي رالتاړ شي چه دوتلو فکر او باور له لاسه ورکړي او کاملاً مأیوس شي او د دي مأیوسي او ماتي په نتیجه کښي د مقابلي پرځای تسلیم او ننواتي وکړي .

په آخرت باندي مؤمن وگړي او یا ټولنه که څه په شخصي او ځانگړي توگه له محرومیتونو او مظالمو سره له مقابلي او مقاومت نه عاجز هم شي خو په مبدأ او اصولي توگه محرومیت ته هیڅکله غاړه نه ږدي ، ځکه هغه باور لري چي قوي خدای هرخوا دی او ایمان لري چه عادل خدای به ده ته د دي ټولو محرومیتونو بدله او د انتقام نوبت ورکوی دا هم په داسي حال کي چه د توحید په عقیده ولاړه حوصله هغه ته د نورو د ضعف او تقصیر په هکله روحي مقاومت او وجداني تسامح ورکوي .

په دي ډول له حوادثو ، نظامونو ، اشخاصونه زیانمن شوی مؤمن انسان که کله ناکله د هغو د مقابلي او تعویض نه عاجز هم راشي او د هغه زړه او احساس څه ناڅه د جامعي پوچ تعامل هم وځپي خو هغه خپل دردیدلی زړه د آخرت په ورځ پرحساب او کتاب باندي د باور د رلودلو په تکورتیا او خپل د زخمي دردیدلي احساس د راتلونکي غوځ په یقیني انتظار پتي کوي او د دي داد ببنونکي احساس او حماسي په لړکښي د هغه روحیات ژوندي او نور مال پائیږي .

همداسي د دنیایي ژوند په خوږو کي پټ مؤمن انسان هم کټ مټ د مصیبت ځپلي مؤمن په شان د دنیایي نیمه خوا ژوند د ناز او نعمت په فاني او تلونکي مزو او چرچو کښي سقوط نه کوي ، هغه د دنیایي ژوند مادي امکانات ، د نعمتونو پریمانتیا ، اجتماعي زړه وړونکي موقعیت ، تسلط او دبدبه یو هم د دي راتلونکي ورځي د عظیم کتاب او حساب نه بي پروانه شي پریښودلی ، هغه هیڅکله هم نه حاضریږي چه د دي موقفونو د خوږو په بدله کښي د آخرت ابدي ژوند او د هغه پریمانه نعمتونه له لاسه ورکړي .

د داسي ایمان خاوند پوهیږي چه دا پریمانه نعمتونه ، امکانیات او مادي تسلط ټول د لوی خدای امانت دي او پر هغه باوري ورځ به لوی خدای له هغه نه پوښتنه کوي .

په دي ډول مادي تسلط او امکانیات اجتماعي موقعیت او رسوخ دنیا بي محدود علم په آخرت باندي

مؤمن انسان داسی نه غره کوی چه هغه د ژوند په نشه کښې دهوا او هوس لیلی بی پروا وزغلوی او دخپل هوا هوس نفسی ارمانو نو د پوره کولو په خاطر پربل چاتجاوز او تیری وکړی اویا په همدی ناز او نعمت کښی ځان ، خدای او آخرت هیر کړی ، ځکه هغه پوهیږی چه لوی خدای له هرڅا نه قوی دی او د هیچا پروانه کوی او هغه باور لری چی د خدای په حق درول شوی میزان او دوزخ د متجاوزینو او تیری کوونکو د بد عاقبت سخت انتظار باسی.

له همدی ځایه ده چه په آخرت مؤمن انسان او ټولنه به حتماً خپل ،ؤقف ، امکانیات او مادی پریمانتیا د خدای د بندگی او د انسانیت د سعادت په جهت کښی په کار اچوی او کله چی موقع راشی داټول امکانیات ، فرصتونه نعمتونه او مواقف د خدای(ج) په لارکښی د جهاد تر عنوان لاندی ترشا پریږ دی او ددی ژوند د ټولوخوږو او ارامتیاوونه تیریدل هم ورته څه گران نه ښکاری ، ځکه هغه د آخرت پر ابدی او یقینی بدله او عوض باور لری. ځکه خود مقاومت او مبارزی رمز په دغسی یو ایمان او باور کښی پروت دی او د همداسی روحیی او فکر څښتن کولای شی د مبارزی او جهاد سنگر ته ورود داننگی.

له همدی ځایه ده چه په بیاژوندون معتقد انسان او ټولنه هیڅکه د دنیا په موقت ژوند کښی د نعمتونو د راټولولو لو بیری "چالاکی" نه وی اخیستی او هیڅکله هغه دا دنیا ددی ژوند پرځان داسی نشی مشغولو لای چی هغه د دنیا لپاره خپل آخرت هیرکړی. د مؤمن انسان شعور او احساس خورا او چت او عالی وی هغه د دنیا له دی ټولی پر اختیار او وسعت سره بیاهم یونه ستومانیدونکی احساس لری او تر دی نه زیات پراخ تعقل او تفکر لری.

د هغه په وړاندی نعمتونه ، محرومیتونه ، مادی امکانیات ، اجتماعی موقعیت ، تسلط او پادشاهی ، فقر او بی نوائی دا ټول په یوه زغلنده سیند کی روانی او به دی ، داسی نه شی کیدای چی ددی سیند څپی له ځان سره د هغه فکر ، عقل ، احساس او عاطفه په مخه کړی ، بلکه هغه د همداسی ایمان له ثابتی او محکمی هډی نه دا ټول روان او تاریخی تحولونه او بدلونونه مطالعه کوی او گوری چه په ټولو کښی د حکیم خدای د حکمت او عدل نښی څرگندی او ښکاره دی او ټول هغه جهت تعقیبوی چه مومن انسان په هغه کښی روان دی.

تاریخ او تجربه شاهد دی چه د مثبت عمل ، تعامل او فعالیت او د هغه دآرامی او همداسی له نفی او غیر مفید عمل ، تعامل او فعالیت نه دمخنیوی لپاره پر آخرت ، میزان ، جزاء ، امکانات ، جنت او دوزخ باندی له پخی عقیدی نه بل محرک او فعال عامل نشته.

ایمان پربیا ژوند باندی اصلاً په انسان کښی دهری فداکاری ایثار ، شهامت او ټولو ښتو او مفید و اعمالو د احساس او تحرك را پیدا کیدلو یوا ځینی مؤثره لارده.

هغه څوک چه د آخرت په ابدی ژوند عقیده او باور ولری هغه به د همدی ابدی ژوندانه د جوړولو په جهت کښی هیڅکله بی تفاوته پاتی نه شی او خامخا به د همداسی اوږ د او پراخ فرصت په غیبرکښی د آرام ژوند د تیرولو په منظور ډیر څه خپلی ټولنی ته ورکوی او ډیر څه به د همدی ژوند د خوندی ساتلو په منظور د جامعی او افرادو د سعادت لپاره گالی.

په دی ډول پر آفت باندی مؤمن انسان له فکری ، روحی او عملی مضیقی ''تنگی'' نه بهروځی ،

او هغه د فکر احساس او عمل په لحاظ دبل هر چا په نسبت ځوواری لوی او څو چنده عمیق او ژور وی.

کله چه په آخرت باندی بی باوره وګړی د دنیا د تنګ چاپیریال سطحی غم او وهم اخستی وی مؤمن انسان په وجدانی لحاظ د آخرت هوښې ځپونکی سفر غم او وهم اخیستی وی.

کله چه د نور و افکار د مادی ژوند جنجالی تعاملو نه مصروف کړی وی د هغه افکار د آخرت ژوند په راتلونکی پراخ پراو کښې غزونی کوی.

هلته چی نور دبی بقاء دنیا ی ژوند د جوړولو ارمان متری کړی وی، مؤمن انسان د آخرت د ابدی ژوند دهوسا کولو په ارمان د انسانیت او ټولنی په سعادت کښې ستومانی ګالی. ځکه د هغه زړه، احساس، فکر لوی او پراخ دی، هغه په دنیا کښې دخپل هر ایثار، قربانی، محرومیت عوض په آخرت کښې غواړی او پری باور هم لری.

هغه ته د دنیا هوسائی، مال، تسلط، اقتدار او هر نعمت د آخرت د ابدی نعمتونو په مقابل کښې ډیر واړه او نا چیز ښکاری، او د ابدی نعمتونو د ګټلو په منظور هغه ته د دنیا ی موقتو او زایلدونکی نعمتونو نه تیریدل ډیر آسان وی.

په آخرت باندی مؤمن انسان د همدی ایمان په رڼاکی هیڅکله په ژوندکښې وحشی تعامل، افراطی انتقام، بی ځایه تعصب وجدان لړزوونکی جفا، لنډپاری او نور و اخلاقی کمزوریو ته پناه نه وړی ځکه پر آخرت، میزان، مکافاتو، مجازاتو ایمان او باور هغه ته دا لوی زړه او دا پراخ احساس وربښلی دی او هغه تربل هر انسان نه په معامله کښې منطقی او معتدل او دهر چا په نسبت د اشخاصو او وګړو پاس او عزت ښه ساتلی شی.

له همدی ځایه ده چه په آخرت معتقد وګړی هیڅکله غلامی او ذلت ته نه منی ځکه هغه له مرګه نه ویریږی او د مرګ په هکله دامی فکر هم نه کوی چه هغه به د هغه دژوند تغر ورټول کړی، په دی اساس د مؤمن انسان په فکر او احساس کښې د آزادی او استقلال نیالګی ترهر هرچابنه وده کولای شی، هغه ظالم او مستبد عناصر په مرګ له شی تهدید ولای او د مرګ او ژوبلی شا ته وینی چه د هغه دغږ ځپیره د ظالم او ناروا پرمخ سپره ده.

په ابدی ژوند باوری انسان ته مرګ، مصیبت، د دوستانو بیلتون او مرګ د اوضاعو او نظامونو او ښنون او راوښتون ټول واړه او غټ حوادث دژوند عادی جریان ښکاری، ځکه هغه په دی باور لری چه ودانه نړی به له خپل عظمت او نظم سره سره به بیاهم خپل ځای بلی لړی او بل نظام ته پریږدی. او په دی ډول هغه ددی لوی نړی او په هغه کښې د انسانی ژوند د عوض کیدو انتظار باسی. د نړی عوضیدل د انسانی ژوند او په هغه کښې د مفاهیمو او افکارو بشپړ عوضیدل ــ ــ.

دا هغه حادثه ده چه مؤمن ته د ټولو پیښواو حوادثو په وړاندی ثبات او ټینګار وربښی.

د هغه په افکار و کښې او چت او چت اسمانونه کدری کدری لاندی لویږی، هسک هسک غرونه او غونډی د پنبې د ټوکرو غوندی په فضاء کښې واوریږی، د عمرونو اباده او په جریان کښې لویدلی نړی ګډه وډه او عوضیږی، هغه په دی خاطر په حوادثو او مصیبتونو کښې لکه غر داسی ولاړ وی، ځکه هغه باور لری چه د کائناتو مالک خدای د هرڅه اختیار لری، هرڅه چی د ژوند په جریان کښې وینی او یاور ته پیښیږی هغه ټول با ایمانه انسان ته دخپل ایمان په جهت کښې روان کاروان ښکاری.

په دی ډول د قیامت دهشتناکه پیښه چی

پاتی په «۳۱/» کی

«رادی»

نمونهٔ از تحمل شدائد و مشقات حضرت صدیق رض در راه اسلام

حافظ ابو الحسن طرابلسی به سلسله خویش از ام المؤمنین عائشه صدیقه (رض) چنین روایت می کند در ابتداء ظهور دین پاک اسلام (زمانی که حضرت پیغامبر ﷺ و یاران با صفا، او در مکه معظمه در دار ارقم بحالت خفاء بسر می بردند) روزی در اجتماع اصحاب کرام که تعداد شان از سی و نه مرد تجاوز نمی کرد حضرت ابوبکر چنین پشنهاد نمود: بهتر است خود را ازین حالت بیرون کنیم وهمه به حرم شریف رفته دین و آئین پاک اسلام را اعلان و مردم را برای آن دعوت دهیم. حضرت پیامبر ﷺ که از عواقب این امر خوبتر واقف بود فرمودند تعداد ما هنوز کم است ولی حضرت صدیق به پیشنهاد خود اصرار ورزید تا اینکه حضرت پیغامبر ﷺ موافقه کردند و چنین تجویز گرفته شد که هر یک از آنها در اطراف و اکناف مسجد الحرام با قوم و خویشا و ندان خویش بنشینند و حضرت صدیق (رض) برای بار اول بحیث خطیب و داعی شروع به سخن کنند واگر شورشی صورت گیرد هر یک در مقابل قبیله خویش به مقاومت بپردازد چنانچه این تجویز بصورت دقیق عملی گرید و حضرت صدیق شروع به سخن رانی نمود و همینکه جناب شان بخواندن کلمه پاک توحید مبادرت ورزیدند مشرکین و کفار مکه از هر جانب علیه آنها حمله بردند که درین سلسله حضرت صدیق (رض) با ندازهٔ یی مورد ضربات و حملات شدید مشرکین بالا خص (عتبه) واقع گردید که رو، بینی، دهن و همه بدن اورا خون فرا گرفت و به حالت کوما بر زمین افتاد بنی تمیم که قوم ابو بکر بودند چون این حالت را دیدند مداخله کردند و او را از بین انبوه مشرکین در یک چادر پیچانده بخانه او بردند در خانه ما در و پدر مو سفیدش هر چند کوشش می کنند ابو بکر بهوش آید و کلمه از زبان او بشنوند ولی موفق نمی شوند ساعتی هر دو بالای بالین پسر خود نشسته گریه می کنند تا اینکه ابو بکر کمی بهوش می آید و اولین کلمه یی که بما در خود می گوید از احوال آنحضرت پرسان می کند و می فرماید (محمد بن عبدالله چه حال خواهد داشت) گرچه این کلمات بر قوم و اقربای، او ناگوار تمام می‌شود ولی از اینکه او به سخن آمد وامید حیاتش پیدا شد خوش می شوند همه برای ما درش توصیه و تاکید می کنند تا چیزی خوردنی و یا آشا میدنی با و بدهد که قوت حاصل نماید ولی هر بار که از طرف مادرش چنین چیزی پیش می شود ابو بکر(رض) همان پرسش قبلی خود را تکرار می نماید (محمد بن عبدالله چه حال‌خواهد داشت؟) وچون ما در غم دیده او به این نتیجه می رسد تا دامیکه او از احوال صاحب خود واقف نشود چیزی نمی‌خورد نمی نو شد مجبور شد‌می گوید من از احوال صاحب و دوست تو چه خبر دارم حضرت صدیق رض با‌و از حزین و باریک بما در خود می‌گوید به پیش ام جمیل دختر

خطاب برو ، از او معلومات حاصل کن مادرش بخانه ام جمیل می رود قصه را بیان می کند و از احوال دوست پسرش (محمد بن عبدالله) از وی معلومات می خواهد ام جمیل که قبلاً بدین پاک اسلام مشرف شده می باشد ولی اسلام خود راپت نگاه داشته (ازین در خوف می شود که مبادا این سرفاش گردد . زیرا هنوز ما در ابوبکر رض با سلام مشرف نشده بود) . اودر جواب ما در ابوبکر می فرساید (من محمد بن عبدالله را نمی شناسم) اگر می خواهی با تومی روم که مطلب پسرتچه بوده است همان است که مادر ابوبکروام جمیل واپس بخانه می آیند همینکه چشم ام جمیل به حالت رقت بار ابوبکر می خورد از چشم های اوآب دیده روان می شود با و نزدیک می شود واورا تسکین وتسلیت می دهد اما حضرت صدیق از و نیز می پر سد (محمد بن عبدالله) چه حال خواهد داشت؟ ام جمیل سوی مادر صدیق اشاره کرده می فرماید مادرت حاضراست ابوبکر می فرماید از رهگذر او هیچ تشویش مکن ام جمیل بحضرت صدیق بشارت می دهد که رسول خدا صحیح و سالم در دارا راقم تشریف دارند) ولی قلب ابو بکر باز هم نا قرار می ماند تا اینکه در نیمه شب وقتیکه همه شیاطین الانس والجن در خواب غفلت رفته می باشند وسکون وآرامی بر کائنات طاری می گردد بحالت نیمهٔ جان از بستر بیماری خود می خیزد و در حالی که در بین راه از هر دو جانب مادرش و ام جمیل با و یاری می کنند خود را به حضور دوست و محبوب خود می رساند و همینکه چشم های مبارک حضرت پیغامبر و یاران با صفای او بالای حضرت صدیق یار راستین شان می افتداز جا می خیزد با او معانقه می کنند و او را بوسه می کنند حضرت پیغامبر درحالی‌که برقلب او رقت وگریه طاری می‌گردداز حال یار باوفاء و صادق خویش می پرسند حضرت صدیق (که بدیدار حضرت پیغامبر همه در دها و اندوه ها را فراموش کرده می باشد بجواب عرض می‌کند یا رسول‌الله خیر است بر سرم تکلیفی نرسیده بجز ضربات آن فاسق (عتبه) که بالای رویم حواله نمود و اینک مادرم که خیلی با فرزند خود مهربان و نیکو کار است نیز آمده است در حق او دعا کنید تا از آتش جهنم نجات یابد حضرت پیغامبر در حصه اسلام ما در صدیق دعا می فرماید سپس او را بدین پاک اسلام دعوت می نماید ما در صدیق که قلبش از دیدار و دعای حضرت پیغامبر به تپش آمده می باشد دعوت حضرت پیغامبر را لبیک می‌گوید و زبان او کلمه طیبه .

لا اله الا الله محمد رسول الله جاری می گردد و باین صورت ما در حضرت صدیق نیز در جمله سابقین و اولین مسلمان ها حساب می گردد رضی الله تعالی عنهم اجمعین .

مردم را تحقیر مکن و در زمین به تکبر گام مزن ! که خدا (ج) خود پسندان گردن فراز را دوست نمیدارد ، در رفتن خویش معتدل باش ! و صوت خویش ملایم کن که بدترین آوازها آواز " خر " است !

د محمد آصف صمیم ژباړه

منلی دعا

خدایه ما کورته مه راستنوی !

دا هغه دعا وه چی هندی د ـ عمرو بن جموح میرمنی ـ له خپل خاوند نه د أحد جنک تـه د سمبالښت او روانیدو پروخت واوریده .

د عمرو بن جموح لومړی ځل ؤ چی له مسلمانانو سره جهاد ته ته ، نه ګډون یی له دی امله ؤچی په پښه سخت ګوډ ؤ ، او د قرآنکریم د څرګند حکم له مخی پر ړانده ، ګوډ او ناروغ جهاد واجب ندی(۱) ؛ هغه که پخپله په جهاد کی برخه نه وه اخیستی ؛ نو څلورو ننګیالیو زامنو ته یی د رسول اکرم (ﷺ) د ملګرتیا ویاړ ور په برخه ؤ ، هیڅ دا نه کنله او نه څوک پدی تمه وو ، چی عمرو دی له شرعی عذر او څلورو زلموزامنو پرلیږلو سربیره وسله واخلی او پخپله دی له مجاهدینو سره ملګری‌شی.

د عمرو خپلوان چی دده له ارادی او هوډ نه خبر شول ورغلل چی ، ستون یی کړی ، ورته ویی ویل .

«یوخو ته شرعی عذر لری ، بل دی څلور غښتلی زلمی زامن له پیغمبر اکرم سره لګیا دی . پکار نده چی ته هم لاړشی !» خو عمرو ورته وویل :

«زامن می چی د ابدی نیکمرغی او جنت هیله من دی ، زما هم دا ارزوده ، عجب ! هغوی دی شهادت ګټی ، او د شهادت خواږه دی څکی او زه دی له تاسی سره پاتی شم ؟

«دا هیڅکله کیدای نه شی» .

د عمرو خپلوانو لاس وانه خیست او همیشه به یو په بل پسی ورته ورتلل ، چی ایسار یی کړی ، هغه د دوی له لاسه پیغمبر اکرم (ﷺ) ته ورغی ، ویلی یا رسول الله ! زماکورنی او خپلوان ما له جهاد نه ستنوی ، او په کورکی می ښکیلول غواړی ، پر خدای جل جلاله قسم چی په همدی ګوډه پښه جنت ته د تلوار ما نجن یم» .

رسول الله و فرمایل :

عمره ! ته شرعی عذر لری ، خدای (ج) معذور کړی یی ، جهاد در باندی واجب نه دی»

عمرو و ویل : یا رسول الله ! ښه پوهیږم چی را باندی واجب ندی ؛ خوبیاهم . . . . »

رسول الله (ﷺ) و فرمایل : سه یی ایساروی، پری یی بږدی چی لاړشی ، د شهادت تږی دی ، کیدای شی خدای (ج) یی ور په برخه کړی» .

د عمرو بن الجموح مجاهده د احدد سره ډګر د ننداری مرکز کرځیدلی و ، چی په ګوډه پښه یی ځان د دښمن لښکر ته ور رساوه او چغه به یی کړه ، د جنت ارما نجن یم» ، زوی یی جوخت ورپسی ؤ ، تر هغی و جنګید چی تر څویی ارمان ورژید .

تر جنګ وروسته ډیری ښځی له مدینی نه راوتی وی ، چی ځانونه د جنګ پر ځای او نتیجه پوه کړی . دا شمیر به هغه وخت لاپسی زیات شو ، چی مدینی ته به بوږنوونکی او اریانوونکی خبرونه راورسیدل .

۱- لیس علی الاعمی حرج ولا علی الا عرج حرج ولا علی المریض ، فتح سورة ـ ۱۸ آیة

عائشه (رض) (د رسول الله (ﷺ) بی بی) هم یکی وه، سترگی یی پر هندی د عمرو پر میرمنی - پریوتی، چی په دریو جنازو بار اوبښ یی له مهاره نیولی او مدینی ته یی راښکه، عائشی (رض) تری پوښتنه وکړه:

«دا څه . . . . ؟»

هنده: الحمد لله رسول الله (ﷺ) رو غرمت دی، هغه (ص) چی روغ وی د بل چا غم نه راځی. بل دا چی «رد الله الذین کفروا بغیظهم» (خدای (ج) کفار له غوسی ډک راستانه کړل.»

عائشه (رض) «د جنازو پوښتنه می کو له؟»

هنده: «دا می د ورور، زوی او خاوند دی.»

عائشه (رض): «چیرته یی وړی؟»

هنده: «مدینی ته» دایي وویل او اوبښ یی مدینی پلو راښکه، اوبښ په ډیره خواری پسی ته، اخر څملاست، عائیشی (رض) وویل د اوبښ وری درووند دی نه یی شی وړای».

هنده: همیشه د دوو او ښانو بارورې، کمزوری ندی څه بله خبره ده چی نه یی وړی».

اوبښ یی بیامخ پر مدینه کړ. خوبیایی کونډه ماته کړه؛ او په کونډه کیدو کی چی د اوبښ مخ آحد پلو شو، لیغ پاخید او منډه یی کړه.

هنده هکه پکه شوه چی مدینی ته په راښکلونه ځی او آحد ته منډی وهی. له ځان سره یی و ویل دا ضرور څه رازدی.

د اوبښ مهار یی آحد پلوتا وکړ، سیده پیغمبر ته ورغله ویلی:

یا رسول الله! عجیبه خبره ده، جنازی می پر اوبښ بار کړی وی، مدینی ته می وړلی، چی ښخی یی کړم؛ خو اوبښ د مدانی په تگ کی قسم وکړ. او احد ته دادی پخپله را روان ؤ.

رسول الله و فرمایل: «خاوند چی دی احد ته راته څه ئی ویل؟

هنده: «له راتک نه می مخکی تری داوینا واوریده:

«خدایه ما کورته مه راستنوی».

رسول الله (ﷺ): بس د دغه شهید خالصانه د عاسنل شوی ده، خدای (ج) نه غواړی چی دا جنازه بیرته کورته ستنه کړی، په تاسی انصاروکی داسی کسان شته چی که له خدایه څه و غواړی، هغه یی منی، ستا خاوند له همدغو کسانو څخه دی»

د رسول الله (ﷺ) په خوښه او سلای دریواړ، جنازی هملته په آحد کی ښخی کړی. رسول الله هندی ته مخ ور واړاوه او ویی فرمایل: «دوی دریواړه به په هغه جهان کی سره یوځای وی[1]».

١- شرح ابن ابی الجدید- ج ٣ - ٥٦٦ مخ

دچا پر اخلاق تر هغی باور مکوی چه تر څو
مو په غوسه کی نه وی ازمیلی.

(حضرت عمر رض)

محمد معروف «فروغگر»

پیوسته بگذشته

خود گرایی و از خود بیگانگی!

بتاسی از آنچه گفته شد :

خداوند(ج) فرماید :

و من یشرک بالله فکانما خرمن السماء فتخطفه الطیر او تهوی به الریح فی مکان سحیق.

(سوره حج)

و هرکه با خدا(ج) شریک مقرر کند (و جز او حکم دیگری را بپذیرد) پس مانند کسی است که از آسمان فرود افتاد و مرغان گوشت خوار او را (به (هرسو) بردند «پارچه های گوشتش را» و یا پراگنده ساخت پارچه های و جودش را باد به جا های دور!

